داکتر کریم غروال

۲۲ سپتمبر ۲۰۲۰

# "اشرف غنی" او "حامد کرزی" دواړه د ملت اساسی دوښمنان دی!

ای منورینو افغانانو ترڅو به د متزلزلو او ارتجاعی او خوش باوری مفکورو او وینا ګانو ځنځیرونو کښي زندانی وی ؟ ایا تاسو ددی ملی خائینینو وحشت او ظلمونه د ظالم شوروی غلامانو دبربریت دوره کښی او بیا د دی ملی خائینینو جاهلو غلامانو د ظالمو امریکا + انګلیس ، ایران او پاکستان بربریت دوره کښي شاهدان نه یاستی ؟؟؟ اوتر څو به ددوی رنګارنګ وحشی ازمایښتونه د اجنبیانو په کومک د دیموکراسی او ازادی بیان بابولانو شعار لاندی دوام ولری چی د ملت د استقلال تر لاسه کولو ستری قربانی هم د پخوا ځلانده تاریخ او هم د شوروی یرغل او اوسنی مکار امریکا یرغل کښي دداسی خرڅ شوو له خوا د اجنبیانو خائینو هدفونو رسیدو لپاره باید وزغمل شی ؟؟؟؟

دا مکاره امریکا د زهرناکه ډالرو او د خپل ازمایښت شوی دوست پاکستان په کومک اود خائین خلیلزاد تر رهبری غوښتل کیږی چی د مصنوعی صلحی بابولانو په واسطه د خپلو تربیه شوو ډالرو غلامانو او د مرتجعو منورینو له لاری غیرتی واحد ملت سستیماتیک ټوټه کیدو ته اماده کړی او دی خائین هدف ته نیږدی شوی هم دی !!!!

اشرف غنی او حامد کرزی دواړه د ملت اساسی دوښمنان دی او دا دوی دی چی دی قاتلانو ته ئی داسی خائینه زمینه برابره کړی دی ، د اشرف غنی کاکا قیوم کوچی د کابل تلویزیون مرکی کښی په جرأت سره واضح اظهار کړی دی چی ماته اول امریکا اهمیت لری او وروستی مرحلی کښی بیا افغانستان نو اوس باید پوه شی چی د افغانستان موضوع باید اصیل افغانان د مظاهرو او اغتشاشونو په وسیله تر لاسه کړی او اروپا ، امریکا کښي د سی آي اي ډالرو غلامان باید هیڅ ځای حتی د افغان پورتالونو کښی د افغانانو افکارو مغشوش کولو او خطا ایستلو لپاره ځای پیدا نکړی شی !!!!!!